# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د نومبر لومړی | ۶۲۰مه گڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### قدس د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د نویو پوهنځیو جوړول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسټرۍ پروگرام پیلول او په ملي او نړیواله کچه د پوهنتون پرمختګ کول د دې موسسې راتلونکي پلانونه دي.



### کرنې وزارت: سږکال په هېواد کې د ناکو حاصلات نږدې اوو زرو ټنو ته رسېدلي



د کرنې او مالدارۍ وزارت وايي چې روان کال په ټول هېواد کې ۶.۹ زره ټنه ناک تولید شوي دي. یاد وزارت وايي چې د دوی د سروې له مخې، په افغانستان کې ۲۴۷۳ هکتاره ځمکه باندې د ناکو بوټې کرل شوي دي.
د کرنې او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر اساس، تر ټولو زیات ناک په هرات، بدخشان او میدان وردګ ولایتونو کې کرل شوي چې په وینا یې، حاصلات یې هم زیات دي. دغه وزارت وېلي چې روان کال په هرات کې د ناکو په حاصلاتو کې ۸ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د کرنې د مسوولینو په وینا، په هرات ولایت کې پر ۷۸ هکتاره ځمکه د ناکو بوټې کرل شوي دي. د سرچینې په خبره، د ناکو د تولید له اړخه بدخشان دویمه درجه ولایتونو څخه دی.
د کرنې او مالدارۍ وزارت ویلي چې په یاد ولایت کې پر ۲۷ هکتاره ځمکه د ناکو بوټې کرل شوي چې ټاکل شوې روان کال ورڅخه ۷۰۰ ټنه ناک راټول شي.

# د ملکي مرګ ژوبلې اوج؛

## کورنیو چارو وزارت: په تېرو پنځوسو ورځو کې ۲۶۱ ملکیان وژل شوي دي



۳

### په امریکایي ټاکنو پورې زموږ تړلې برخلیک

۲ مخ

### چین د راتلونکو پنځو کلونو لپاره؛ اقتصادي او ټولنیز هدفونه وټاکل

۲ مخ

### د سولې مذاکرات او د مرکچي پلاوي تاریخي مسوولیت

۳ مخ

## د بشري حقونو مدافع بنسټونه: استرالیا دې په افغانستان کې د خپلو پوځیانو د بشریت ضد کړنو پایلې شریکې کړي

د بشري حقونو یو شمېر استرالیایي، افغان او نړیوالو ډلو د استرالیا له پوځ غوښتي چې په افغانستان کې د خپلو پوځیانو د بد چلند د تورونو په اړه د څېړنو پایلې خپرې کړي.
د بښنې نړیوال سازمان، سیف دې چېلډرن او د افغانستان د انتقالي عدالت د همغږۍ ډلې په شمول ۲۵ سازمانونو د استرالیا له پوځي چارواکو نه په یوه لیک کې دا غوښتنه مطرح کړې ده.
دا پرانیستی لیک د نړیوال عدالت لپاره د استرالیایي مرکز په وېبپاڼه خپور شوی او پکې د استرالیا د دفاعي ځواکونو د سرمفتش مرستیال جنرال پاول بریرتون مخاطب شوی دی.
په دغه لیک کې راغلي چې د استرالیا دفاعي ځواکونو سرمفتش څلور کاله وړاندې د هغو ادعاوو څېړل پیل کړي چې له مخې یې، ځینې استرالیایي پوځیان په ۵۵ قضیو کې په ناقانونه وژنو او له ملکیانو او بندیانو سره په ظالمانه چلند تورن شوي دي.
د بشري حقونو دغو مدافع ډلو ویلي، له دې چې د استرالیا د سرمفتش څېړنې په بشپړېدو دي، نو باید پایلې یې له ټولو سره شریکې شي. د استرالیا حکومت او د پوځ سرمفتش تر اوسه پورې د بشري حقونو د دغو ډلو د لیک په ځواب کې څه نه‌دي ویلي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې داسې راپورونه او ویډیوگانې خپرې شوې چې استرالیایي ځواکونه پکې په ښکاره توګه په افغانستان کې د بشریت ضد کړنې ترسره کوي او له کوم دلیل پرته ملکیان وژني او شکنجه کوي.

## یوناما: ښځېنل اړخونه دې ژر تر ژره تاوتریخوالی راکم کړي



۲ مخ

## عمران خان: حمایت از طالبان حق پاکستان بود، اما بالای طالبان کنترول نداریم



عمران خان نخست وزیر پاکستان گفته است که اسامه بن لادن رهبر پیشین القاعده، در درگیری دهۀ هشتاد علیه روسیه، قهرمان بود و از سوی استخبارات پاکستان و امریکا حمایت میشد. عمران خان، این اظهارات را در مصاحبۀ اختصاصی با شپیگل رسانۀ جرمنی بیان کرده است. نخست وزیر پاکستان گفته است که این کشور، هیچ ربطی با حملۀ ۱۱ سپتمبر بر امریکا نداشت؛ بخاطریکه القاعده در افغانستان بود.
وی افزوده است: «حکومت آن دورۀ پاکستان، باید به فوج این کشور اجازه نمی داد که در درگیری امریکا در افغانستان دخیل شود، من از روز اول مخالف آن بودم، امریکا بالای ما فشار آورد و پرویز مشرف دیکتاتور اسبق، به این فشار تسلیم شد.»
عمران خان در جواب یک پرسش گفته است که اسامه بن لادن، در جنگ دهۀ هشتاد در برابر روسیه، قهرمان بود که از سوی استخبارات امریکا و پاکستان حمایت میشد.
نامبرده گفته است که این، حق پاکستان بود که از طالبان حمایت نماید؛ اما بالای طالبان هیچگونه کنترول نداشت؛ زیرا زمانیکه پاکستان از طالبان خواست تا اسامه را تسلیم امریکا نماید، آنها انکار کردند.
عمران خان در جواب این سوال که اگر پاکستان بالای طالبان کنترول ندارد، پس چطور آنها را به میز مذاکره با امریکا آماده کرده است؛ زیرا ترمپ بطور رسمی از پاکستان تشکر کرده است، گفت: «حدود سه میلیون مهاجر افغان در پاکستان به سر می برند، ما کمتر بالای ایشان کنترول داریم. ما تلاش کردیم که از آنها استفاده کنیم و در این کار موفق شدیم.»




Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos

کابل دریمه ناحیه، د جمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

# په امریکایي ټاکنو پورې زموږ تړلی برخلیک

ټاکل شوې چې د نومبر په دریمه په امریکا کې د ولسمشرۍ ټاکنې وشي او ډېری افغانان فکر کوي چې د افغانستان د سولې او جګړې راتلونکی د دې ټاکنو له پایلو سره تړلی دی. که ټاکنې اوسنی ولسمشر ټرمپ وګټي، نو د دې ډېره شونتیا ده چې له طالبانو سره یې کړې هوکړه پوره عملي شي، بهرني ځواکونه ووځي او په کور دننه هم د جوړجاړي شونتیا شته؛ خو که ټاکنې جوبایډن وګټي، نو له طالبانو سره د شوې هوکړې په اړه د امریکا له اړخه د بیا کتنې شونتیا شته. که څه هم بایډن داسې څه نه دي ویلي، خو هغوی چې د امریکا او طالبانو د هوکړې مخالف دي، له بایډن همدا تمه لري.

د افغانستان په تړاو د ډونالډ ټرمپ او بایډن تګلارې سره ورته ښکاري، یوازې په دومره توپیر چې بایډن وایي له داعش سره به د جګړې لپاره یوه برخه امریکایي ځواکونه په افغانستان کې پرېږدي. که څه هم تر نوماندۍ وړاندې بایډن ویلي وو چې افغانستان باید پاکستان ته وسپارو او له هغه ځایه خپل ځواکونه را وباسو. اوس چې د امریکا ټاکنو ته د ګوتو په شمېر ورځې پاتې دي، د امریکا او طالبانو د هوکړې پلویان تمه لري چې ټرمپ ټاکنې وګټي او په دې سره به دا هوکړه پوره عملي شي. له همدې امله په زړه کې دا هیله لري چې ټاکنې ټرمپ وګټي؛ خو د افغانستان د حکومتي چارواکو په ګډون، د طالبانو او امریکا د هوکړې مخالفین بیا تمه لري چې ټاکنې بایډن وګټي او آن داسې ویل کېدل چې د افغانستان حکومت په همدې تمه تر اوسه پورې د سولې په لاره کې خنډونه جوړول، د بندیانو خوشې کول یې ځنډول او ټوله هڅه یې دا وه چې د امریکا تر ټاکنو پورې لوی پرمختګونه ونه ځنډوي. سره له دې چې بایډن د افغانستان په تړاو ډېر څه نه دي ویلي او داسې دریځ یې هم نه دی خپل کړی چې په افغانستان کې یې د هغه پلویان یا غوښتونکي تمه لري، خو بیا هم یوه برخه کسان فکر کوي چې ښایي هغه له ټرمپ څخه متفاوته تګلاره ولري او له طالبانو سره شوې هوکړه لغوه کړي او یا هم له سره ورته کتنه وکړي.

د افغانستان په تړاو که د امریکا تګلارې ته ژوره کتنه وشي، داسې نه ښکاري چې هلته به د ولسمشرانو په بدلون پکې اساسي تغیر راشي. ښایي څه واړه بدلونونه راشي، خو له افغانستان څخه به ټول یا لویه برخه امریکایي ځواکونه وځي او امریکا به دلته د یو پیاوړي ملګري په لټه کې وي چې ګټې یې خوندي کړلی شي. له همدې امله د امریکا ټاکنې به د افغانستان پر سوله او جګړه کوم اساسي اغېز ونه لري.

څه چې د افسوس وړ دي او ډېره دردوونکې ده، هغه دا چې زموږ برخلیک یو مخ زموږ له لاسه وتلی دی او دلته واکمنان او لوبغاړي هر څه په امریکا کې د ولسمشر په بدلون پورې تړلي ګڼي. دا د یوه ملت او هېواد لپاره ډېره دردوونکې ده. زموږ سیاسیون او د جګړې دواړه اړخه باید له دې امله د شرم او خجالت احساس وکړي چې مسایل په امریکایي ټاکنو پورې تړلي ګڼي. دا واقعاً دردوونکې ده او موږ به تر هغو له دې ذلت څخه خلاص نه شو، څو چې خپلې ستونزې خپله سره حل نه کړو او د پردیو له سیوري ځان خلاص نه کړو.



# چین د راتلونکو پنځو کلونو لپاره؛ اقتصادي او ټولنیز هدفونه وټاکل

لیکواله: زرینه
د چین میډیا ګروپ خبریاله

د چین د کمونېست ګوند د نولسمې مرکزي کمېټې پنځمه عمومي غونډه د اکټوبر له ۲۶مې تر ۲۹مې نېټې پورې په بېجینګ کې تر سره شوه. په دغه غونډه کې د چین ۱۴م پنځه کلن پلان تصویب شوی او د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د دغه هېواد د اقتصادي او ټولنیزې ودې ټاکل شوي مهم هدفونه یې په لاندې ډول دي:

په اقتصادي وده کې دې نوي پرمختګونه تر لاسه شي، د اقتصادي ودې په کیفیت او موثریت کې دې د پام وړ لوړوالی راشي او اقتصاد ته دې د همدې هدفونو پر بنسټ دوام‌لرونکی او سالم پرمختګ ورکړل شي او دغه راز دې د اقتصادي ودې لپاره د هغوی پټ قوت راڅرګند او استفاده دې ترې وشي، داخلي بازارونه دې لا پیاوړي شي او اقتصادي جوړښت دې لا مساعد او آسانه شي، ابتکاري وړتیا دې لا لوړه شي، صنعتي بنسټونه دې لا پرمختللي شي او صنعتي ځنځیر دې لا عصري شي، زراعتي بنسټونه دې تقویه شي، ښارونه او کلي دې په برابر او همغږي ډول پرمختګ ومومي او د اقتصادي سیسټم د عصري کېدو په بهیر کې دې مهم پرمختګونه تر لاسه شي. د اصلاحاتو او ورخلاصون په برخه کې دې نوي ګامونه پورته شي، بازاري او اقتصادي سیسټم دې لا بشپړ شي، لوړه سویه لرونکی بازاري سیسټم دې په اساسي ډول جوړ شي، په بازارونو کې دې کار و بار لا فعال شي، په بازارونو کې دې سالم رقابت ته زمینه برابره شي او د لا پرانیستي اقتصاد لپاره دې نوی نظام په بنسټیزه توګه جوړ شي. د ټولنیز تمدن کچه دې لوړه شي، چینایان دې د هېواد پر ارزښتونو لا پوه کړل شي او د خلکو ذهني، اخلاقي او معلوماتي کچه دې لا لوړه شي او فزیکي او روحي سلامتیا ته د تامین لپاره دې هڅه وشي، خلکو ته دې عام فرهنګي خدمات برابر شي او فرهنګي ژوند یې دې غني کړل شي، د چین د کلتوري اغېزې کچه دې لوړه او د خلکو اتحاد دې لا پیاوړی شي. د ایکولوژۍ ساتنه او پرمختګ کې دې نوې لاسته راوړنې رامنځ ته شي، له ځمکو د استفادې او ساتنې طریقه دې لا غوره شي، تولیدي چارې دې داسې برابرې شي چې چاپېریال ته زیان ونه رسوي او دغه راز دې د انسان د ژوند طریقه هم د چاپېریال د ککړتیا د مخنیوي په موخه اصلاح شي. د طبیعت د ککړتیا د مخنیوي په موخه دې د ککړو او اضافي توکو د کمېدو لپاره یو مناسب سیسټم جوړ شي، په مسلسل ډول دې دغه اندازه کمه کړل شي څو طبیعت او د ژوند چاپېریال پاک شي. د خلکو د ژوند سویه دې لوړه کړل شي، خلکو ته دې باکیفیته کاري فرصتونه برابر شي، د اوسېدونکو عایدات او د هېواد اقتصادي وده دې په هممهاله توګه زیاتوالی ومومي، ټولنیز ضمانت دې لا بشپړ شي، د بې وزلۍ د له منځه وړلو لاسته راوړنې دې وساتل شي او د زیاتو لاسته راوړنو لپاره دې هڅو ته دوام ورکړل شي او د کلیوالو سیمو د بیا سمسورتیا ستراتېژي دې په هر اړخیزه توګه پلې شي. د هېواد د منجمنټ او اداره کولو سویه دې عصري شي، قانوني سیسټم دې لا بشپړ شي، ټولنیز عدالت دې تامین شي، دولتي اداري سیسټم دې نور هم اصلاح شي، پر خلکو د حکومت د منجمنټ د رول اغېزه او دغه راز پر حکومت د خلکو د باور کچه دې لا لوړه کړل شي، د لویو خطرونو د مخنیوي سیسټم او میکانیزم دې بشپړ او د بېړنیو پېښو پر وړاندې د مبارزې توان دې لا غښتلی شي. د طبیعي پېښو د مخنیوي سویه کې دې د پام وړ زیاتوالی رامنځ ته شي او د ملي دفاعي چارو او د پوځ عصري کېدو بهیر دې ډېر چټک شي.

لیکنه: نبي الله ارغندیوال

# د کاپي رایټ اهمیت او ارزښت

کاپي رایټ د ادبي، علمي او هنري چاپ او نا چاپ آثارو د ساتنې قانون دی. که دا اثار په هر ډول وړاندې شي، په داسې حال کې چې د درک وړ وي یانې لیدل، اورېدل او یا لمس کېدای شي، نو د کاپي رایټ ملاتړ لري. که دا اثر مقاله، ننداره، ترانه، په رقص کې کوم نوی حرکت، کوډHTML یا کمپیوټري ګرافیک وي، چې پر کاغذ، د کېستې په پرده، سي ډي او یا هم د کمپیوټر په هارډویر د ثبت کېدو وړتیا ولري، په کاپي رایټ کې شاملېږي.

کاپي رایټ د انحصاري حقوقو مجموعې ته وایي چې د یو کس یا اداري لخوا د خبر، راپور، تصویر او نورو رامنځ ته کوونکو څیزونو د امتیاز حق د تولیدوونکي کس حق بولي.

کاپي رایټ د هنري، ادبي او علمي کارونو د هڅونې په موخه رامنځ ته شوی او د همدې موخې له خورا لوی ارزښت څخه برخمن دی. پخوا وختونو کې چې د فکري او هنري اثارو نشر او خپرول محدود وو، د پنځوونکو د مادي ګټې د لاسته راوړلو توقع هم له دې اثارو څخه نه وه، نو ځکه د دې اثارو قانوني ملاتړ هم ضروري نه و؛ خو په اوسنۍ نړۍ کې د معنوي مالکیتونو له فوق العاده پراخوالي سره چې علمي پنځونو په فردي او ډله ییز ډول پیدا کړی او هغه رول چې دا برخه یې لري بالخصوص د بشري اقتصاد په پیاوړتیا کې؛ نو قانون جوړوونکي نه شي کولی چې نور هغو ته توجه ونه کړي.

د یوې پنځونې رامنځ ته کول که هغه کوم لیکلی مطلب وي، لکه کتاب، رساله او یا هم کوم صمعي او بصري اثر وي، د دې ټولو رامنځ ته کول خورا لوی زحمت او تکلیف غواړي، که پنځوونکی د خپل اثر مادي او معنوي امتیازات تر لاسه نه کړي، نو هېڅکله به دې ته زړه ښه نه کړي چې پنځونه وکړي، چې په دې سره به ټولنه وروسته پاتې وي، نه به پکې کوم غوره کتاب ولیکل شي او نه به هم کومه هنري پنځونه چې د ټولنې د عامه شعور د ویښ والي وړ وي، رامنځ ته شي. که چېرې یو پنځوونکی د خپلې پنځونې او اثر له مادي او معنوي حقوقو څخه برخمن وي، نو هغه کار ته لا تشویقېږي او په خپل کار کې به د نوښتونو په رامنځ ته کولو بریالی شي، وروستۍ پنځونې به یې لا غوره او ښې وي، چې د ټولنې د پرمختګ لامل کېږي.

د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې لیکوالان، ژباړونکي، هنرمندان او عکاسان د خپلو اثارو او پنځونو له خرڅلاو څخه مناسبه ګټه لاسته راوړي، چې د هغه ژوند پرې په ښه توګه پر مخ ځي، نو دوی دا اړتیا نه لري څو کوم بل کار وکړي؛ دوی په خپل ژوند کې ډېر اثار لیکي او وروستي اثار یې دومره په زړه پورې وي چې په نړۍ کې په سلګونو ژبو ژباړل کېږي او په میلیونونو ټوکه چاپ او خپرېږي. که کاپي رایټ د دوی د پنځونو حقوق تضمین نه کړي، نو هېڅکله به پنځونو ته دوام ورنه کړي.

د بشر حقونو نړیواله اعلامیه نه یوازې ابتکاري او اصیل کارونه، بلکې د داسې حق اقتصادي منافع هم په رسمیت پېژني. د دې اعلامیې په (۲۷)مه ماده کې داسې راغلي: ۱- هر شخص حق لري چې په آزاده توګه د ټولنې په فرهنګي ژوند کې برخه واخلي، په هغه کې شریک شي او له هنرونو څخه بالخصوص د هنرونو له علمي پرمختګ او ګټې څخه برخمن کېدای شي.
۲-هر شخص دا حق لري څو له خپلو علمي، ادبي او یا هنري اثارو څخه د معنوي ګټې ملاتړ تر لاسه کړي.

# یوناما: ښکېل اړخونه دې ژر تر ژره تاوتریخوالی راکم کړي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت یا یوناما وایي، د روان تاوتریخوالي ډېری قربانیان ښځې او ماشومان دي. یوناما په یوې اعلامیې کې یو ځل بیا په افغانستان کې د جګړې له ښکېلو اړخونو څخه غوښتي چې ژر تر ژره دې تاوتریخوالی کم کړي.

یوناما وایي چې روان تاوتریخوالي پر افغان مېرمنو او ماشومانو تر ټولو زیات منفي اغېز کړی دی. په اعلامیه کې ویل شوي چې ټول اړخونه باید د سولې ټینګېدو لپاره له رامنځته شوي تاریخي فرصت څخه ګټه پورته کړي.

د سرچینې په خبره، په تېرو نهو میاشتو کې په هرو لسو وژل شویو ملکي کسانو کې څلور یې ماشومان او ښځې دي.

د یوناما په اعلامیه کې راغلي: «د همدې لپاره موږ د جګړې په ټولو ښکېلو اړخونو یوځل بیا غږ کوو چې د جنسیت پراساس تاوتریخوالي په ګډون په عاجل ډول تاوتریخوالی راکم کړي او د یو سوله‌ییز، پر ځان بسیا او باثباته افغانستان لپاره کار وکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې یوناما د اکتوبر په ۲۷ د ملکي تلفاتو په اړه راپور خپور کړ او ویلي یې وو چې په قطر کې د سولې د خبرو له پیلېدو سره سره بیا هم د ملکیانو تلفات نه دي کم شوي.

په راپور کې راغلي وو چې د روان کال له جنورۍ میاشتې څخه بیا د سپټمبر میاشتې تر پایه پورې ۲۱۱۷ ملکي کسان وژل شوي او ۳۸۲۲ نور ټپیان ثبت شوي دي.

راپور ښیي چې د یادو تلفاتو ۴۵ سلنه طالبانو، ۲۳ سلنه د افغانستان امنیتي ځواکونو، ۲ سلنه نړیوالو ځواکونو او پاتې برخه یې داعش او نورو نا څرګندو وسله والو پورې اړولې دي.

یوناما داسې مهال د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کړې چې په قطر کې له څه موده راهیسې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکره کوونکو ترمنځ‌خبرې روانې دي.

# اروپايي ټولنه: له افغانستان سره د کانونو په سکټور کې خپلې همکارۍ زیاتوو

اروپايي ټولنې د استخراجي صنایعو د روڼتیا په نړیوال سازمان کې د افغانستان له بیا ځلي غړیتوب هرکلی کړی دی.

په کابل کې د اروپايي ټولنې مشر استازي او سفیر وون برنډت ویلي، په دغه سازمان کې د افغانستان په غړیتوب باندې د لګېدلي ځنډ له لرې کېدو هرکلی کوي او اروپايي ټولنه به له افغانستان سره د کانونو په سکټور کې د حساب ورکونې او لا زیاتې روڼتیا لپاره همکاري وکړي.

برنډت ویلي، دا د افغانستان لپاره یوه لاسته راوړنه ده. هغه په خپل ټویټر باندې دا هم لیکلي چې اروپايي ټولنه به د کانونو په سکټور کې د لا زیات شفافیت د راتلو او د حساب کتاب د ښه کېدو لپاره له افغانستان سره همکاري وکړي.

د اروپايي ټولنې د استازولۍ مشر بیا دا ټینګار هم کړی چې خلک باید پوه شي چې د هېواد معدني شتمنۍ یې څنګه مدیریت کېږي. د استخراجي صنایعو د روڼتیا نړیوال سازمان شاوخوا ۵۰ غړي لري چې د کانونو د استخراج د قراردادونو او د استخراج ټولو اړوندو برخو کې د روڼتیا د تأمین لپاره کار کوي.

دغه سازمان ځکه د افغانستان غړیتوب ځنډولی و چې په خبره‌یې، له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۷ ز کاله پورې افغان حکومت اړوند مقررات نه‌وو رعایت کړي او هم یې د کانونو په برخه کې ښه مدیریت نه و کړی.

خو د اکتوبر په ۲۹مه د دغه سازمان مشرتابه پلاوي پرېکړه کړې چې افغانستان د شرایطو د پوره کولو لپاره لازمې هڅې کړې، نو ځکه یې د دغه هېواد د غړیتوب په سر لګېدلی ځنډ لرې کړ.

د دغه سازمان لپاره د غړو هېوادونو روڼتیا، د اړوندو ادارو پوره ښکېلتیا او د کاني سرچینو د مدیریت له لارې د پایلو او اغېزو ترلاسه کېدل درې مهم او اساسي شرطونه دي.

د دغه سازمان د نړیوال سکرتریت عمومي مشر مارک روبینسون په یوه پیغام کې ویلي چې په افغانستان د یادو شرطونو د تطبیق زمینه برابره کړې ده.

# د سولې مذاکرات او د مرکچي پلاوي تاریخي مسوولیت

لیکنه: ضیاالحق فضلي

په افغانستان کې له کلونو جګړې او تاوتریخوالي وروسته د افغان ولس هغې غوښتنې ته لبیک وویل شول، چې ټولو یې بې صبرانه انتظار درلود او هیله یې دا وه چې دغسې ورځ په خپل ژوند کې ووینې. له نېکه مرغه د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې، سیمې هېوادونو، طالبانو او سیاسیونو په هلو ځلو د جګړې د ښکېلو اړخونو تر منځ د سولې د تېنګښت په اړه د مخامخ خبرو اترو زمینه برابره شوه او دواړو ډلو دې ته چمتووالی وښود چې د روان ناورین د پای ته رسولو لپاره د مذاکرې مېز ته کېني.

د افغان سولې لپاره په تېرو کلونو کې ډېرې هلې ځلې وشوې او مختلفو اړخونو پکې ګډون درلود، خو پایلې یې تر ډېره محسوسې نه وې. دا ځل د سولې روانو خبرو ته د ولس هیلې او تمې ډېرې دي؛ ټول یې تاریخي اقدام ګڼي او ډاډه دي چې د جګړې له منحوسې بلا به یې ژغوري.

په قطر کې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې مخامخ خبرې پرته له شکه چې تاریخي دي؛ ځکه د نړیوالې ټولنې او سیمې هېوادونو بشپړ ملاتړ ورسره دی او د تېر په پرتله یوه ښه کورنۍ او بهرنۍ اجماع رامنځ ته شوې ده. له دغو خبرو دا ځل د ولس تمې ډېرې لوړې دي او نړیوال هم د یوې مثبتې پایلې د څرک لارې څاري.

جګړې په تېر او اوس کې هره ورځ له لسګونو هېوادوالو قرباني اخیستې او اخلي یې؛ ځکه خو ټول د دې مذاکراتو د چټکې پایلې غوښتونکي دي، څو جګړه ودرېږي.

د خلکو د غوښتنې منطق هم ډېر پر ځای دی؛ ځکه څومره ژر چې د سولې د خبرو پایلې معلومېږي، په هماغه کچه د افغان وژنې، وطن ورانېدو او وینې تویېدو مخنیوی هم کېږي.

په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو له لوري مذاکراتي مرکچیان د لوړ باور پر اساس ټاکل شوي او تاریخي مسوولیت ور تر غاړې دی، دا د دوی په درایت او پوهې پورې اړه لري چې خپل مسوولیتونه په څه ډول او په څومره موده کې تر سره کوي او ولس ته مثبته نتیجه په لاس ورکوي. پرته له شکه چې د افغانانو سرنوشت اوس د دواړو ډلو د مذاکراتي پلاوي په لاس کې دی، دوی که غواړي له ولس او هېواد سره ښه وکړي، خپل انساني او ملي مسوولیت باید په دقیقه توګه تر سره کړي.

دغه مذاکرات له ماهیت، ارزښت او تاریخي پلوه خورا مهم دي، لکه مخکې مو چې وویل د مرکچیانو مسوولیتونه هم درانه دي. په اوسني وخت کې د تاوتریخوالي کمول، د اوربند تامین، په ولسي خلکو او امنیتي ځواکونو د بریدونو درول، د یو بل زغمل او په تېرو بحث نه کول هغه مسایل دي، چې د دواړو خواوو اساسي مسوولیتونه ګڼل کېږي او د ترسراوي لپاره یې باید هر اړخیزې هلې ځلې وکړي، څو د مذاکراتو تاریخي حیثیت وساتل شي.

د تېرو کلونو لاسته راوړنې نه یوازې افغان حکومت، بلکې طالبانو ته هم مهمې دي، ځکه که دوی حکومت ته راګډېږي، له همدې امکاناتو او فرصتونو به په مساوي ډول برخمن کېږي. د دواړو اړخونو ټینګار باید د تېرو لاسته راوړنو ساتنه وي. په دې لاسته راوړنو کې ملي پوځ، استخبارات، ملي پولیس، عامه تاسیسات، دولتي ادارې او نور شامل دي چې د نوي حکومت او نظام په چلولو کې به له ټولو سره مساوي مرسته کوي.

د مذاکراتو په جریان کې د اختلافي موارد و له منځه وړل، د کینې ختمول، یو بل ته د ماتې او بریا پېغورونه نه ورکول، تورونه نه لګول او عمومي بښنه هغه مسوولیتونه دي چې په راتلونکي حکومت کې به د دواړو خواوو سیاسي مشارکت په ښه توګه تمثیل کړي.

موږ هیله من یو چې حکومت او طالبان د خپل تاریخي مسوولیت په تر سره کولو کې په پوره تدبیر بېړه وکړي او له شته فرصته عظیمه ګټه پورته کړي. ژر نتیجې ته رسېدل او د یو بل پر خبرو قناعت به هغه څه وي چې د دغو خبرو په مثبته پایله کې به اساسي نقش ولري. دواړې خواوې باید تر وروستي حده هڅه وکړي چې دغه رامنځ ته شوی فرصت ضایع نه شي او ولس او هېواد یو ځل بیا د بربادۍ لور ته سوق نه شي. مهمه ده چې مذاکرات د پوره صمیمیت، ورورولۍ او یو بل زغملو په فضا کې تر سره شي. له داسې خبرو باید ډډه وشي چې مذاکراتو ته زیان رسوي او د دښمن هدف (د سولې خبرو ویجاړول) ممکن کوي.

همدا اوس مغرض سیاسیون، ځینې هېوادونه، استخباراتي کړۍ او د سولې نور مخالفین هڅه کوي چې په یو ډول نه یو ډول دغه خبرې تخریب کړي او خپلې ناوړې موخې تر لاسه کړي. مرکچي پلاوي باید دغو حساسیتونو او دسیسو ته په کتو خپل تاریخي مسوولیت په افغاني او اسلامي احساس تر سره کړي.

# د ملکي مرګ ژوبلې اوج؛

## کورنیو چارو وزارت: په تېرو پنځوسو ورځو کې ۲۶۱ ملکیان وژل شوي دي



سره له دې چې نړیوال او د افغانستان په مسئله کې ټول ښکېل اړخونه د طالبانو او افغان حکومت د جګړو د کمېدو غوښتونکي دي، خو د دواړو لورو ترمنځ جګړې د پخوا په پرتله ډېرې شوې او ملکي تلفات لوړ شوي دي. کورنیو چارو وزارت په تازه څرګندونو کې ویلي چې طالبانو په تېرو پنځوسو ورځو کې په خونړیو جګړو کې ملکي وګړو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

سرچینه وایي چې طالبانو ګڼ تهاجمي بریدونه کړي او تر څنګ یې ځانمرګي بریدونه هم ډېر کړي دي. بلخوا د نظامي چارو شنونکي بیا حکومت د جګړې په مدیریت کې ناکام بولي.

نږدې دوې میاشتې کېږي چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د مخامخ مذاکراتو لړۍ پیل شوې، خو دواړه خواوې لا نه دي توانېدلي چې د مذاکراتو پر تګلاره توافق وکړي. بلخوا په هېواد کې بیا د طالبانو او حکومت ترمنځ جګړه اوج ته رسېدلې ده. ملګرو ملتونو تېره اونۍ په خپل راپور کې په افغانستان کې د ملکي وګړو پر تلفاتو اندېښنه ښودلې وه. د یوناما په راپور کې راغلي وو چې د سولې مذاکراتو د ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالی نه دی راوستی.

اوس تازه د کورنیو چارو وزارت هم وایي چې د طالبانو په بریدونو او جګړو کې په تېرو پنځوسو ورځو کې ۲۶۱ ملکیان وژل شوي دي. د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین رسنیو ته ویلي چې طالبانو د سولې د خبرو له پیل وروسته خپل بریدونه ډېر کړي دي چې له امله یې په تېرو پنځوسو ورځو کې ۲۶۱ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده. نوموړي همدا راز ویلي چې په بېلو پېښو کې ۶۰۳ ملکي وګړي ټپیان شوي هم دي. طارق آرین وایي چې طالبانو په دې موده کې ۹۵۹ یرغلیز بریدونه کړي، ۱۴ یې ځانمرګي بریدونه کړي او ۲۶۳ کړۍ ماینونو ته یې هم چاودنه ورکړې ده.

کورنیو چارو وزارت همدا راز وایي چې د طالبانو ګڼ بریدونه افغان امنیتي ځواکونو یا شنډ کړي او یا یې په شا تمبولي دي. هغه د افغان ځواکونو د تلفاتو په اړه څه نه وایي، خو په خبره یې، په پنځوسو ورځو کې افغان ځواکونو تر ۲ زره پورې طالب وسله والو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د ده په خبره: ((افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د طالبانو د تهاجمي بریدونو په ځواب کې دوی ته درانه تلفات اړولي دي. په همدې لړ کې په تېرو پنځوسو ورځو کې تر ۲ زره ډېرو طالبانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده)).

وسله والو طالبانو د افغان حکومت د دې ادعا په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي، خو ناټو یو ځل بیا له طالبانو غوښتي چې تاوتریخوالی کم کړي. په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي سټېفانو پانتیکورو په وروستیو څرګندونو کې ویلي چې جګړه باید کمه کړل شي او دواړه لوري دې خبرې چټکې کړي. د ده په وینا، په افغانستان کې روانه جګړه یوازې او یوازې د خبرو له لارې د ختمېدو وړ ده او دواړو لورو ته په کار ده چې تاوتریخوالی کم کړي او دایمي اوربند ته لار هواره کړي.

ارګ بیا وایي چې طالبان سولې ته زړه نه ښه کوي او پر ځای یې تاوتریخوالي ته ادامه ورکوي. د ولسمشر د ویاند مرستیال دوا خان مینه پال وایي، افغان حکومت د طالبانو شپږ زره او سل بندیان د حسن نیت لپاره خوشي کړل، څو دغه ډله تاوتریخوالی کم کړي او مذاکرات وکړي، خو دوی جګړه شدیده کړې ده او دې مسئلې ثابته کړه چې طالبان تر سولې پر جګړه ډېر باوري دي.

د نظامي چارو شنونکي بیا په دې باور دي چې حکومت د جګړې په مدیریت او د خپلو ساحو په ساتلو نه دی بریالی شوی. د نظامي چارو کارپوه جنرال عتیق الله امرخېل وایي، ولسوالۍ او کلي هره ورځ د طالبانو لاس ته ورځي، ملکي تلفات لوړ شوي دي، د افغان ځواکونو تلفات لوړ دي او دا هر څه د حکومت د کمزوري مدیریت په مانا ده. هغه وایي: ((په قومانده کې کمزوري ده، په استخباراتو کې کمزوري ده، جګړه سمه نه مدیریت کېږي)).

# راپورونه: په ترکیه کې د وروستۍ زلزلې له کبله د مرګ ژوبلې شمېر ۸۲۶ ته رسېدلی

ترکي چارواکو ویلي چې په دغه هېواد کې د وروستۍ زلزلې له امله د مړو شوو کسانو شمېر ۲۶ تنو ته ورسېد. اسوشېټېډ پرېس خبري اژانس د ترکي چارواکو په حواله ویلي چې تر ټولو زیات۲۴ کسان د ترکیې په «ازمیر» ایالت کې مړه شوي دي.

ویل کېږي چې د یادې زلزلې له امله څه باندې ۸۰۰ تنه نور ټپیان شوي هم دي. ترکي چارواکو ویلي چې «ازمیر» ایالت ته ۳۰۰۰ ژغورونکي کسان لېږل شوي، ترڅو ځپل شوو کسانو بېړنۍ مرستې ورسوي.

دوی ویلي چې د زلزلې اندازه د رېښتر په کچه ۶.۹ درجې وه چې له کبله یې یاده مرګ ژوبله واوښته. د راپورونو له مخې، یادې زلزلې استانبول ته نږدې ځینې سیمې او د یونان جزایرو ځینې برخې هم لړزولې دي.

چارواکي وایي، د یونان د «ساموس» په جزیره کې دغې زلزلې دوه کسان مړه کړي او اته نور ژوبل دي. د ترکیې په «ازمیر» کې د دغې زلزلې له کبله د سمندر اوبه له خپلې سطحې څخه اوښتې او په سېلاب بدلې شوې دي.

د دې زوروړې زلزلې مرکز د اژه سمندرګی بلل شوی چې څپې یې ان په استانبول او یونان کې حس شوې. امریکا د دې زلزلې اندازه اووه درجې ښودلې، خو ترکیې د رېښتر په کچه ۶،۶ اعلان کړې.

د یادونې ده چې ترکیه په سیمه کې د هغو هېوادونو له ډلې ده چې پخوا هم خطرناکه زلزلې پکې تېرې شوي او زرګونه کسان پکې مړه شوي او ټپیان شوي دي.

تېره جنوري په ایلاژیک ښار کې یوې زلزلې ۳۰ کسان مړه او څه باندې ۱،۶۰۰ نور کسان‌یې ټپیان کړل. د ترکیې په ازمیت «Izmit» ښار کې د ۱۹۹۹ ز کال زلزله تر ټولو خونړۍ بلل کېږي چې پکې ۱۷ زره کسان مړه شوي وو. خو چارواکو زیاته کړې چې د وروستۍ زلزلې له کبله لاهم ګڼ کسان تر خاورو لاندې دي، چې ښایي د مرګ ژوبلې شمېرې تر دې هم لوړې شي. په ورته وخت کې دوی ویلي چې له زیانمنو شویو کسانو سره یې مرستې پیل کړې او ژغورونکي ټیمونه به هم ډېر ژر تر خاورو لاندې کسان راوباسي.



په ورته وخت کې د نړۍ ګڼو هېوادونو او سازمانونو له دې کبله له ترکیې سره خپله خواخوږي ښودلې او ویلي یې دي چې له یاد هېواد سره هر ډول همکارۍ ته چمتو دي.

# قدس د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حیمدي




قدس د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپلې لومړنۍ غیر رسمي چارې په ۱۳۹۲ کال کې پیل کړې دي، چې بیا یې په ۱۳۹۳ کال کې د لوړو زده کړو وزارت تر منظورۍ وروسته خپلې رسمي چارې په بغلان ولایت کې پیل کړې دي. د لوړو زده کړو د دې موسسې موسس او مشر مولوي جمال الدین احمدي وایي، چې اوسمهال یې موسسه دوه پوهنځي شرعیات او ښوونه او روزنه لري، چې دواړه یې فعال دي او عملاً پکې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي. د قدس د ښوونې او روزنې پوهنځی په خپل چوکاټ کې د (کیمیا، بیولوژي، کمپیوټر ساینس، پښتو، دري او انګلسي ادبیاتو) ډیپارټمنټونه لري او شرعیاتو پوهنځی یې بیا دوه ډیپارټمنټونه لري. د لوړو زده کړو دغه موسسه اوس هم همدا دوه پوهنځي لري.

د لوړو زده کړو دغه موسسه اوسمهال د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري، چې عملاً پر لوړو زده کړو بوخت دي. دی وایي، د محصلینو پنځوس سلنه یې ښځینه دي. مولوي جمال الدین وایي چې تر اوسه پورې یې ۳۹۵۰ محصلین له خپلو دواړو پوهنځیو فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. په دومره کمه موده کې ځکه له دې موسسې څخه په دومره لوړه کچه محصلین فارغ شوي، چې په ښوونه او روزنه پوهنځي کې تر ډېره هغه کسان نوملیکنه کوي، چې له دې وړاندې یې تر څوارلسم ټولګي پورې په نورو ځایونو کې زده کړې کړې دي او دلته بیا تر دوه کلنو زده کړو وروسته د لسانس په کچه فارغېږي.

ښاغلی احمدي وایي چې هر کال یې د جذب کچه توپیر کوي. دی وایي، په لومړیو کلونو کې یې د جذب کچه خورا لوړه وه، خو تر ډېره دغه خبره د هېواد په امنیتي او اقتصادي وضعیت پورې هم تړلې ده، که د خلکو اقتصاد ښه وي او په هېواد کې امنیت تامین وي، نو ښکاره ده چې ډېر خلک زړه ښه کوي، چې زده کړې وکړي هغه هم په خصوصي پوهنتونونو کې. دی وایي چې پخوا به یې هر کال د زرو تنو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبول، خو تېر کال یې د پنځو سوو په شاوخوا کې محصلین جذب کړي وو.

مولوي جمال الدین احمدي وایي، چې د پوهنتون له جوړولو یې اصلي موخه خلکو ته خدمت کول او د زده کړو زمینه برابرول دي. دی وایي، تر اوسه پورې یې ډېرو هغو خلکو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې ده، چې د اقتصادي ستونزو له کبله یې نه شوای کولای چې لوړې زده کړې وکړي. د نوموړي په خبره، پنځوس سلنه محصلینو ته یې ځلوېښت سلنه تخفیف ورکړی دی. د دې تر څنګ د شهیدانو ورثه وو او د معلولینو د کورنیو غړو ته هم ځانګړی تخفیف په پام کې لري. دی وایي چې په دې برخه کې یې ځانګړې کمېټه ګومارلې ده، څو محصلین ارزیابي کړي، هغه محصلین چې اقتصادي ستونزې لري معلوم یې کړي او ځانګړی تخفیف ورکړي. د احمدي په خبره، په ټوله کې د بغلان خلک اقتصادي ستونزې لري، نو د نورو خصوصي موسسو په پرتله دوی له محصلینو لږ فیس اخلي. احمدي وایي چې له ځینو نورو دولتي ادارو هم محصلین ور معرفي کېږي او په لږ فیس د دوی په موسسه کې لوړې زده کړې کوي. قدس د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د ورځې په دریو وختونو کې خپلو محصلینو ته د زده کړو زمینه برابره کړې ده.

د قدس د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د خپلو محصلینو لپاره دوه ډوله مجهز کتابتونونه هم جوړ کړي دي. د دې موسسې مشر وایي چې په یوه کتابتون کې یې په هارډ ډول د محصلینو لپاره د پوهنځیو اړوند او تر څنګ یې ډېر نور کتابونه د آزادې مطالعې لپاره هم ځای پر ځای کړي دي، څو محصلین ترې ګټه واخلي. د فزیکي کتابتون تر څنګ قدس د لوړو زده کړو موسسه ډیجیټالي کتابتون هم لري، چې محصلین کولای شي د مطالعې لپاره له دغه کتابتون څخه ګټه واخلي. ښاغلی احمدي وایي چې د کتابتون تر څنګ یې د کمپیوټر ساینس ډیپارټمنټ د محصلینو لپاره مجهز کمپیوټر لب او په ټوله کې د محصلینو د وړتیا او تجربو لوړولو لپاره ټول هغه امکانات برابر کړي، چې محصلین وکولای شي د نظري زده کړو تر څنګ، عملي زده کړې هم وکړي چې ښه بېلګه یې د حقوقي کلینیک جوړول، د اونیزو او میاشتنیو ورکشاپونو او سمینارونو جوړول دي.

مولوي جمال الدین وایي چې تر اوسه پورې یې خپلو ټولو فارغ شویو محصلینو ته تصدیق پاڼې او ترانسکرېپونه ورکړي، چې خپله د پوهنتون د ادارې او لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شوي او محصلین کولای شي ګټه ترې واخلي. خو په خبره یې، هغه ډیپلومونه چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ور کول کېږي تر اوسه پورې دوی خپلو محصلینو ته نه دي ورکړي، ځکه مولوي احمدي وایي چې دغه ډول ډیپلومونه لومړی خصوصي پوهنتونونو او بیا په خپل وار د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته ور کول کېږي، چې تر اوسه پورې یې دوی ته نوبت نه دی رسېدلی.

په قدس د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۵۰ دایمي او ٦۰ قراردادي استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي. مولوي جمال الدین احمدي وایي چې هڅه کوي، څو تجربه لرونکي او په خپل مسلک کې رسېدلي کسان د استادانو په توګه پر دندو وګوماري، څو په کارپوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي. نوموړی وایي چې د استادانو په ډله کې یې ښځینه استادانې هم شاملې دي. هغه زیاتوي، استادان یې د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.

د نویو پوهنځیو جوړول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسټرۍ پروګرام پیلول، په ملي او نړیواله کچه د پوهنتون پرمختګ کول، په کور د ننه او بهر کې له پر مختللو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لاسلیک کول د قدس د لوړو زده کړو خصوصي موسسې راتلونکي پلانونه دي.


مولوي جمال الدین احمدي وایي چې د دوی یوازینۍ موخه د افغانستان خلکو په ځانګړې توګه ځوانانو ته د لوړو زده کړو د زمینې برابرول دي، نو له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په دې برخه کې له دوی سره همکار پاتې شي څو په ټوله کې خصوصي پوهنتونونه پرمختګ وکړي او له دې وزارت سره څنګ پر څنګ د هېواد په ابادۍ او ځوان نسل ته د زده کړو زمینې برابرولو په برخه کې همکاري وکړي. دی وایي، دوی د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او تر اوسه پورې یې د دغه وزارت ټول مقررات او لایحې پر ځان عملي کړې دي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسي پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

- لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
- ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زیمنې برابرول




دولت: موږ په هند کې تر څو کلونو مخکې د «پوځي صنعتي کمپلېکس» اصطلاح نه وه اورېدلې چې دا به دومره ځواکمن کېږي. دا د ISI لپاره یوه ښه اداره ده. په هند کې هره ناوړه پېښه ISI ته منسوبېږي. هغه ډېره اغېزناکه ده، که په هر نوم یې یادوې، تصمیم نیوونکې اداره ورته وایې او که د دولت په منځ کې یې دولت بولې. دا تر اوسه یوه له حیرانوونکو څارګرو ادارو څخه ده.

سېنها: خو له هغه راهیسې چې نرېندرا مودي واک ته راغلی، له تبلیغاتي پلوه د ISI رول پیکه شوی. اوس په هر څه کې ازادي غوښتونکي او روڼ اندي ملامت بلل کېږي، نه ISI.

دولت: یوه ورځ زه په کراچۍ کې د یوه ټلوېزیون له لوري وپوښتل شوم چې د ISI په اړه څه نظر لرم. ما وویل چې ISI عالي ده، زه به خوشاله شم که چېرته د ISI مشر شم!

سېنها: ایا رښتیا هم په پاکستان کې لومړي وزیران له ISI څخه په وېره کې وي؟

دوراني: تر ډېره ناسم باور دی. زه فکر نه کوم. هر یو غواړي چې ISI د خپل هدف لپاره په ښه لور رهبري کړي، که څه هم دا یې حق دی. په حساسو مسایلو کې ISI کولای شي اقدام وکړي، ځکه چې په دې وخت کې یوې پرېکړې ته اړتیا وي. موږ اړتیا لرو چې ځینې ګامونه واخلو، خو نه غواړو چې پوځ، ملکي مشرتابه او حکومت وګواښو. ځینې فکر کوي چې ISI دومره ځواکمنه ده چې هر څوک او هر څه سمولی شي. ولو که دا خبره رښتیا هم وي، ISI به په ملکي چارو کې مداخله ونه کړي، مګر دا چې د ملکي حکومت خوښه وي.

دولت: ستاسو خبره سمه ده، مهمه نقطه دا ده چې دا یو کوچنی، خو دیکتاتورشیپ جوړښت دی. په ISI کې یکه تازي ده او یوازې افراد د پرېکړې واک او صلاحیت لري. هغوی دا کار په یوه یا بله طریقه ترسره کوي.

دوراني: ISI په ۱۹۸۰ یمه لسیزه کې د افغان جهاد په پایله کې وده وکړه. یاد سازمان ته پراختیا، پرېمانه سرچینې او ملاتړ ور په برخه شول، ځکه چې هغه مهال افغانستان د شوروي اتحاد له لوري اشغال شوی و. که نه له دې پرته شونې نه وه چې داسې یو هېواد چې له ګڼو کورنیو او بهرنیو ګواښونو سره مخ و، دا کار یې په یوازې ځان کړی وای. زما اوس هم په یاد دي او موږ باید پر کیفیت تمرکز کړی وای. دا د یوه کس له وسې پوره کار نه و او باید له نورو سره مو په ګډه کړی وای. دې کار د اغېزمنتوب لپاره باور رامنځته کړ او همدارنګه باور یې ځکه رامنځته کړ چې د ګڼو د ټکر له امله به ګڼو خلکو له ISI ښه نه ایسېدل. یوه بېلګه یې له افغانستانه د شوروي پوځیانو تر وتلو وروسته د امریکا اندېښنه وه. د امریکا په باور، کار وشو او موخه ترلاسه شوه، اوس نو مخکې له دې چې ISI پراخه اوستره شي، تشکیل یې باید کوچنی او راکم کړل شي. د دې تر شا ځانګړی دلیل پروت و، چې د امریکا د پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش د ملي امنیت سلاکار (جنرال برنټ سکوکرافټ) په ۱۹۹۱ کال کې د خلیج تر جګړې دوه کاله وروسته په لندن کې په یوه غونډه کې پرې اعتراف وکړ. هغه وویل چې د عراق له لوري د کویټ د اشغال پر مهال د عراقي ځواکونو د ظرفیت په اړه د ISI ارزونه د CIA په پرتله ښه وه. دا زما ارزونه وه چې CIA د ګواښونو په ارزونه کې مبالغه کړې وه. موږ په کلکه دا وړتیا لرله او له ځیرکتیا، سرې وینې او میتودیکي ارزونې څخه برخمن وو.CIA د خپلو متخصصینو او سټلایټ په مرسته د انځورونو له لارې د ګواښونو په اړه په لویه کچه ارزونه کوله. زه نه پوهېږم چې سټلایټونو هغه وخت څه کول، په داسې حال کې چې هند په ۱۹۹۸ کال کې په پوکران کې اټومي ازمایښتونو ته چمتووالی نیوه.

دولت: جنرال صېب لکه چې د هوا له لارې برېښنایي څار کړی و، که داسې وي خو سمه ده. زه برېښنایي څار ردوم، مګر دا چې دا کار د انساني څارګرو په مرسته شوی وي.

دوراني: که زه چېرته د CIA په پر ځای وای، نو زه به هم د ISI د هغې ارزونې په اړه اندېښمن وم چې ISI یې د ترسره کولو وړتیا لرله. ما دا خبره په یوه لیکنه کې هم کړې وه چې څو کاله مخکې په اتلانتیک مجله کې خپره شوې وه: که غواړې چې په راتلونکي کې په عراق کې د ډله ییزې وژنې د وسلو ادعا تحریک کړې، لکه په ۲۰۰۳ کال کې چې وشول، که ISI یې خوشې ادعا وبولي، نو ته باید اندېښمن شې. دا هغه څه دي چې د ISI له مخینې سره یې مرسته کړې. د هغه د تأسیس په پرتله لویه لاسته راوړنه. دا کېدای شي تر یوه بریده مبالغه وي، خو د پاکستان شاوخوا وضعیت او چاپېریال ته په کتو کافي ده: هند په کافي اندازه لوی دی، د افغانستان فضا په کافي اندازه ګرمه، ایران په کافي اندازه تجربه شوی او کافي خپلواکي هم لري او متحده ایالات لا هم د سیمې په سیاستونو کې بې ځایه لاسوهنې کوي.ISI باید لوبه کړې وای. هر څه باید په ډېر پام او احتیاط سره ترسره شوي وای. دا کار هله شونی دی چې وخت ولرې. خو موږ هغه وخت په ډېره بېړه کې وو. موږ د ګواښ احساس کاوه، تر دې چې د بېړنیو پایلو د لاس ته راوړلو لپاره لاس په کار شوو. ځینې وخت په سړه سینه او مشوره د یوه کار ترسره کول کېدای شي چې د اوږدمهال لپاره د اساسي اصولو د له لاسه ورکولو لامل شي.

دولت: د ISI د مشر پرېکړه به وروستۍ خبره وه، هغه به چې څه ویل هماغسې کېدل. سم یا ناسم. هغه به چې څه ویل د ځان لپاره یې حق ګاڼه. زموږ ملګرو په تحلیل کې خورا احتیاط کاوه.

دوام لري...

همیانی

# آسیب های فضای مجازی برای کودکان

احمد فردوسی

در دو دهه گذشته شاهد رشد چشمگیر کاربران انترنت و شبکه های اجتماعی بوده‌ایم؛ کاربرانی که طیف‌های مختلف سنی از کودکان و نوجوانان گرفته تا افراد مسن را دربرمی‌گیرند. به‌ویژه این روزها که آموزش کودکان ما به استفاده از انترنت و حضور در فضای مجازی وابستگی بیشتری پیدا کرده است. این نیمه پر لیوان است؛ اما آیا این رشد چشمگیر ضرر و زیانی هم داشته است؟ مسلما پاسخ این سؤال مثبت است؛ به‌ویژه وقتی صحبت از کودکان کم‌سن‌وسال باشد. زورگویی سایبری یا انترنتی (که در بعضی موارد حاد حتی منجر به خودکشی شده است)، رواج پورنوگرافی، دوری از اجتماع و میل به گوشه‌گیری و کم‌تحرکی یا بی‌تحرکی (نشستن بیش از حد و فعالیت‌نداشتن)، همگی از زیان‌هایی‌اند که این رشد چشمگیر به‌ویژه برای کودکان در پی داشته است. در ادامه، اطلاعاتی طبقه‌بندی‌شده درباره آسیب های فضای مجازی برای کودکان در اختیارتان خواهیم گذشت.

استفاده گسترده از انترنت مزایای متعددی دارد. با استفاده از انترنت می‌توان با هرکسی در هرکجای این کره خاکی ارتباط برقرار کرد، با چند کلیک ساده یا لمس صفحه‌نمایش می‌توان از علوم و فنون مختلف مطلع شد، کارها و پروژه‌های مختلف را به‌صورت دورکاری انجام داد، معاملات مالی و بانکی را بی‌دغدغه و به‌سادگی هرچه تمام‌تر انجام داد و... . با این حال، فضای انترنت ضرر و زیان‌هایی نیز دارد که در ادامه، با برخی از آسیب های فضای مجازی برای کودکان آشنا خواهیم شد.

پیش‌تر گفته بودیم که آسیب های فضای مجازی برای کودکان را به‌طور جزئی‌تر و طبقه‌بندی‌شده بررسی خواهیم کرد. اولین زیرمجموعه این آسیب‌ها آسیب‌های روان‌شناختی فضای مجازی برای کودکان است. کودکانی که زمان زیادی را در فضای مجازی سپری می‌کنند، ممکن است گرفتار احساس انزوا و افسردگی شوند. هرچه کودک بیشتر در فضای مجازی وقت بگذراند، از آن‌سو برای تعامل رودررو با اعضای خانواده و دوستان زمان کمتری خواهد داشت.

به‌علاوه، برانگیختگی و تحریکی که از استفاده از انترنت ناشی می‌شود ماهیتی مصنوعی و غیرطبیعی دارد و به همین خاطر، ممکن است کودکی که زیاد در این فضا وقت می‌گذراند، در مواجه با کارها و فعالیت‌های معمول و بعضا کسل‌کننده روزمره، احساس بی‌حوصلگی کند و زود از انجامشان خسته شود.

نکته دیگر اینکه حجم فوق‌العاده زیاد اطلاعات مختلف در فضای مجازی می‌تواند رشد شناختی (Cognitive Development) کودک را تحت‌تأثیر قرار دهد و منجر به بروز نشانه‌ها و علائمی چون استرس و خستگی مفرط در او شود.

انزوا و افسردگی از آسیب‌های روان‌شناختی رایج استفاده از فضای مجازی برای کودکان هستند. این آسیب‌ها به‌ویژه کودکانی را تحت‌تأثیر قرار می‌دهند که زمان زیادی را در انترنت سپری می‌کنند و به‌نوعی از اجتماع و تماس رودررو با دیگران به دور افتاده‌اند. فضای مجازی نقش نوعی محرک مصنوعی را برای کودکان بازی می‌کند و اگر در استفاده از آن زیاده‌روی شود، کودک در مواجهه با فعالیت‌های معمول روزمره کسل و بی‌حوصله خواهد شد .

افسردگی و بروز نشانه‌ها و علائم اختلال کم‌توجهی بیش‌فعالی (ADHD) ارتباط تنگاتنگی با استفاده افراطی از فضای مجازی دارند (هم در کودکان و هم در بزرگ‌سالان).

کودکانی که دسترسی به انترنت برایشان آسان و بی‌دردسر است و زمان زیادی را در آن سپری می‌کنند، به‌مرور زمان توانایی تمایز قائل‌شدن میان خیال و واقعیت را از دست می‌دهند. در فضای مجازی هرکس هرچه بخواهد منتشر می‌کند و این مطالب ممکن است بدون محدودیت در دیدرس کودک قرار بگیرد. این است که مرز بین خیال و واقعیت کمرنگ و کمرنگ‌تر می‌شود.

تماشای تصاویر، ویدئوها و به‌طور کلی محتوای خشونت‌آمیز یا حاوی صحنه‌های جنسی پیامدهای بد و ناخوشایندی برای کودکان خواهد داشت: افزایش رفتارهای پرخاشگرانه، بی‌اعتنایی نسبت به درد و رنج دیگران و ناتوانی در تمایز قائل‌شدن میان زندگی واقعی و محرک‌های مصنوعی از جمله این پیامدها هستند. اینها از دیگر آسیب‌های فضای مجازی برای کودکان هستند که در شمار آسیب‌های اجتماعی دسته‌بندی می‌شوند.

کودکی که زیاد در فضای مجازی وقت می‌گذارند ممکن است به‌مرور زمان مرز بین خیال و واقعیت را گم کند. چنین کودکی از آسیب‌های اجتماعی فضای مجازی مصون نیست؛ آسیب‌هایی مثل تمایل به رفتارهای پرخاشگرانه و بی‌اعتنایی نسبت به درد و رنج دیگران.

همان‌طور که احتمالا می‌توانید حدس بزنید، کم‌تحرکی و به‌دنبال آن چاقی و اضافه‌وزن مهم‌ترین تهدیدهایی‌اند که استفاده افراطی از فضای مجازی کودکان را در معرض آنها قرار می‌دهد. مقدار زمانی که کودکان در طول هفته صرف استفاده از دستگاه‌های دیجیتالی مثل کامپیوتر و گوشی هوشمند می کنند طی روندی روزافزون رو به افزایش است و از سوی دیگر، ساعاتی که صرف ورزش و سایر فعالیت‌های بیرون از خانه می‌شود کمتر شده است. این کم‌تحرکی، که از صرف وقت در فضای مجازی ناشی شده است، رشد جسمانی کودک را تحت‌تأثیر قرار می‌دهد. حال اگر چاقی و اضافه‌وزن هم به آن اضافه شود، ممکن است به خطر ابتلای کودک به دیابت در دوران کودکی دامن بزند.

استفاده بیش از حد از صفحه‌کلید نیز ممکن است به بروز برخی اختلال‌های حرکتی، نظیر سندرم تونل کارپال (سندرم مجرای مچ دست/ Carpal Tunnel Syndrome) منجر شود.

خستگی چشم و در پی آن سردرد از دیگر آسیب‌هایی است که سلامت جسمانی کودکانی را که زیاد با دستگاه‌های دیجیتال در فضای مجازی وقت می‌گذرانند، تهدید می‌کند.

ناگفته نماند که بخش اعظم این کودکان دچار اختلالات خواب نیز هستند. بعضی از آنها کمتر از حد نیاز می‌خوابند، برخی راحت به خواب نمی‌روند و عده دیگری با هر دوی این مشکلات سروکار دارند؛ مشکلاتی که به‌مرور سلامت جسمانی را هم تحت‌تأثیر قرار خواهد داد.

کم‌تحرکی، اختلال‌های حرکتی، خستگی چشم، چاقی و اضافه‌وزن از جمله آسیب‌هایی‌اند که سلامت جسمانی کودکانی را که زیاد با دستگاه‌های دیجیتالی و فضای مجازی سروکار دارند، تهدید می‌کنند.

احتمال اینکه کودکان کم‌سن‌وسال در فضای مجازی در معرض سوءاستفاده و زورگویی انترنتی قرار بگیرند از هر گروه سنی دیگری بیشتر است و کودکان از این حیث بسیار آسیب‌پذیرند.

افرادی هستند که با اهداف پلیدی وارد فضای مجازی می‌شوند و برای محقق‌کردن این اهداف به‌دنبال طعمه می‌گردند. چه کسانی بهتر از کودکان زودباور و ساده؟ آنها پروفایل‌های تقلبی درست می‌کنند، خود را هم‌سن کودکان جا می‌زنند و در اتاق‌ها یا انجمن‌های گفت‌وگو به‌مرور زمان اعتماد کودک را به خود جلب می‌کنند؛ با این هدف که مخفیانه قرار ملاقاتی با او بگذارند.

رفتارهای خشونت‌آمیز، سوءاستفاده جنسی و اتفاق‌های ناخوشایند دیگری نظیر اینها مسائلی‌اند که کودک ممکن است در قرار ملاقات با چنین اشخاصی گرفتارشان شود.

عده دیگری هم هستند که پس از جلب‌اعتماد کودک، اطلاعات شخصی نظیر حساب‌های بانکی والدین و مواردی از این دست را از او درخواست می‌کند؛ مسئله‌ای که ممکن است به‌اندازه مورد قبلی نتایج مخرب به بار آورد.

کسانی که قصد زورگویی به دیگران را دارند دیگر حتما نباید با قربانی‌شان رودررو شوند. امروزه آنها از انترنت برای این کار استفاده می‌کنند. تقریباً تمامی قربانی‌های چنین افرادی کودکان کم‌سن‌وسال هستند. این افراد با درست‌کردن پروفایل‌های جعلی با کودکان دوست می‌شوند و پس از گذشت مدتی آنها را در معرض تهدیدهای مختلفی مثل سوءاستفاده جنسی یا دریافت اطلاعات شخصی قرار می‌دهند.

تغییرات رفتاری و نشانه‌هایی که مطرح می‌شوند، مربوط به کودکانی است که هدف زورگویی انترنتی قرار گرفته‌اند. این نشانه‌ها کمک می‌کند به علت اصلی ناراحتی کودکتان پی ببرید و به او کمک کنید:

کودک از افراد ناشناس تماس‌های تلیفونی دریافت کند؛

کودک به‌محض ورود والدین به اتاقش کامپیوتر را خاموش کند؛

سپری‌کردن مدت‌زمانی طولانی در فضای مجازی (به‌ویژه شب‌ها)؛

کناره‌گیری کودک از اعضای خانواده و بی‌میلی به صحبت‌کردن درباره فعالیت‌هایش در فضای مجازی.

راهکار مقابله با این مسئله چیست؟

بهترین کار این است که کودک را از عضویت در شبکه‌های اجتماعی منع کنید. به کودکتان گوشزد کنید بعدها و هنگامی که بزرگ‌تر شد، به‌اندازه کافی برای وقت‌گذراندن در این شبکه‌ها فرصت خواهد داشت و حالا وقت مناسبی نیست. اگر نمی‌خواهید این کار را انجام دهید، به کودکتان یادآوری کنید که اگر مورد هدف زورگویی قرار گرفت، همیشه می‌تواند روی کمک شما حساب کند (چه زورگویی انترنتی باشد و چه رودررو). اگر ندانید چنین اتفاقی برای کودکتان افتاده است، نمی‌توانید هیچ کمکی به او بکنید؛ پس باید کاری کنید که در اسرع وقت از موضوع باخبر شوید و کودکتان کاملاً به شما اعتماد داشته باشد.

## سرچینه: د دولت او طالب مرکچي پلاوو ترمنځ د بُن‌بست له منځه تلو لپاره پنځه هېوادونه منځګړیتوب کوي

د ملي مصالحې په عالي شورا کې ځینې سرچینه وایي، چې د قطر په ګډون پنځه هېوادونه د افغان دولت د مذاکراتي ټیم او طالبانو ترمنځ له کړکېچ نه د خبرو د ایستلو لپاره منځګړیتوب کوي.

سرچینه وایي چې دا مهال په دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاوو او د تماس ډلو ترمنځ خبرې په ټپه درېدلي، خو په خبره، چې ښایي دغه خبرې بیا پیل شي.

یادې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي چې د دغو خبرو د بیاځلي پیل لپاره به قطر، جرمني، ناروې، اندونیزیا او ازبکستان منځګړیتوب وکړي، خو د افغان دولت د مرکچي پلاوي غړې حبیبې سرابي بیا ویلي چې د دواړو لورو ترمنځ خبرې نه‌دي درېدلي.



په ورته مهال د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویانده ناجیه انوري هم تاییدوي چې د دواړو خواوو د رهبرۍ غړو او تماس ډلو ترمنځ جلسې شوې دي.

انوري وایي، چې د افغان دولت د سولې د مرکچي پلاوي څو تنه غړي د اداري او ضروري چارو لپاره کابل ته ستانه شوي، خو خبرې نه دي درېدلي.

د هغې په خبره: «د دوی د نه‌شتون په جریان کې څو ځلې د دواړو ټیمونو د رهبرۍ او تماس ډلو ترمنځ مجلسونه شوي دي، تر اوسه پورې مشخص پرمختګ نشته، په دې مجلسونو کې د بیانولو یوه نوې شېوه باندې بحث وشو، ترڅو یوې نتیجې ته ورسېږي.»

د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاوي ترمنځ وروسته له هغې خبرې ځنډنۍ شوې چې د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره د طرزالعمل د جوړېدو په برخه کې په دوو مواردو اختلاف رامنځته شو. د طالبانو ټینګار دا دی چې د خبرو پر مهال به ستونزې یوازې د حنفي فقهې پر مټ هوارېږي او بل دا چې د بین‌الافغاني خبرو بنسټ به هم په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ شوې هوکړه وي، خو افغان مرکچي پلاوی ورسره دا نه‌مني او بدیلې طرحې یې وړاندې کړې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۷۵ |
| € | ۸۹،۲۰ |
| Rp. | ۴۷۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸،۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د نومبر لومړی | ۶۲۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۵ | ۲۵ | ۲۵ | ۲۸ | ۲۳ |
| ۲ | ۵ | ۱۱ | ۷ | ۱۰ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۴۹ | لمر ختل ۰۶:۱۳ | ماسپښين ۱۱:۳۸ | مازيګر ۰۲:۳۸ | ماښام ۰۵:۰۱ | ماخوستن ۰۶:۲۶

## وزارت مالیه: پس از ۲۷ قوس هر نوع وسایطی که بدون اسناد گمرکی وارد افغانستان گردد، ضبط می شود



ثبت وسایط بدون اسناد گمرکی و ترافیکی(یک کلید) به هدف افزایش عواید ملی و تامین امنیت، دیروز آغاز شد و پس از ۲۷ قوس، هر نوع وسایطی که بدون اسناد گمرکی وارد افغانستان گردد، ضبط می شود.

وزارت مالیه می گوید که این اقدام، بر بنیاد حکم مقام عالی ریاست جمهوری و مصوبه شماره ۱۵ جلسه شورای امنیت ملی صورت می گیرد و هدف ازاین پروسه افزایش عواید ملی، تامین امنیت و نظم عامه و جلوگیری از مختل شدن جریان ترافیک می باشد.

عبدالهادی ارغندیوال سرپرست وزارت مالیه در رابطه گفت: «این مسئله (ثبت اسناد وسایط یک کلید)، باعث افزایش امنیت ملی ما می شود؛ زیرا اغلب کارهای غیرقانونی توسط این وسایل صورت می گرفت. تمام موترهایی که از سال ۱۹۹۰ میلادی بدینسو، به صورت غیرقانونی وارد کشور شده است، راجستر می شود و بعد از ختم میعاد تعیین شده، اگر شخصی به صورت غیرقانونی وسایط را به کشور وارد نماید، ما مطابق قانون با آن برخورد نموده و هیچ نوع عذری را نخواهیم پذیرفت.»

خلیل الله صالح زاده رئیس عمومی گمرکات با تاکید گفت که مالکان وسایط فاقد اسناد، باید تا ۲۷ ماه آینده (قوس) در گمرک ها و در ولایاتی که گمرک موجود نیست، در مستوفیت ها ثبت و طی مراحل نمایند؛ زیرا عرایض در این مورد پس از ۲۷ قوس پذیرفته نمی شود.

## نړۍ




راپورونه: په ترکیه کې د وروستۍ زلزلې له کبله د مرګ ژوبلې شمېرې ۸۲۶ ته رسېدلي

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې له ۴۶ ميليونو واوښتې

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې له ۴۶ ميليونو اوښتې دي. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله يو ميليون او ۱۹۶ زره او ۳۲۴ کسان مړه شوي او له ۳۳ ميليونو ترې ډېر بېرته رغېدلي دي.

د امريکا متحده ايالتونه د کرونا ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او مړه له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امريکا کې د دغه ويروس مثبتې پېښې نهه ميليونه او ۳۲۴ زره او ۸۳۳ ته رسېدلي او ۲۳۵ زره او ۲۶۴ نور امريکايان يې مړه کړي دي.

له امريکا وروسته هند د کرونا ويروس د اته ميليونه او ۱۵۷ زره او ۹۰۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د پنځه ميليونه او ۵۱۹ زره او ۵۲۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېيم، روسيه د يو ميليون او ۶۱۸ زره او ۱۱۶ مثبتو پېښو له کبله څلورم او فرانسه د يو ميليون او ۳۳۱ زره او ۹۸۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. دغه راز هسپانيا، ارجنټاين، کولمبيا، برېټانيا او مکسيکو په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د دې وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ارمنستان او اذربايجان هوکړه کړې چې په جګړه کې به ملکيان او ملکي تاسيسات نه په نښه کوي



د ارمنستان او اذربايجان د بهرنيو چارو وزيران په ژنيو کې په يوې غونډې کې هوکړه کړې چې د ناګورنو قره باغ په جګړې کې به په قصدي توګه ملکيان نه په نښه کوي.


د راپورونه له مخې، تر دې دمه په دې جګړې کې دواړو خواوو ته سلګونه ملکيان وژل شوي دي. دغو هېوادونو د امريکا، روسيې او فرانسې په منځګړيتوب په ژنيو کې دغه موافقه کړې ده.

دواړو لورو منلې چې نه به ملکيان او نه هم ملکي تاسيسات په نښه کوي او همدغه راز مړي او د بنديانو لېست به هم تبادله کوي، خو په دې غونډه کې په اوربند توافق نه دی شوی. تر دې مخکې دواړو غاړو درې ځلې اوربند کړی و چې مات شوی و. وروستی اوربند چې د تېرې يکشنبې په ورځ مات شو، د امريکا د بهرنيو چارو د وزير مايک پامپيو په منځګړيتوب شوی و. د دواړو خواوو ترمنځ جګړه د سپټمبر په ۲۷ پيل شوې او تر دې دمه سلګونه کسان پکې وژل شوي دي. دا د ۱۹۹۴ ز کال له اوربند وروسته د دغو هېوادونو ترمنځ تر ټولو خونړۍ جګړه بلل کېږي.

ارمنستان په ۱۹۹۱ ز کال کې د پخواني شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته له اذربايجان څخه خپلواکي ترلاسه کړه چې بيا جګړه پيل شوه او د ۱۹۹۴ ز کال تر اوربند مخکې پکې ۳۰زره کسان ووژل شول.


## ژوند

## ایسر نوي لپټاپونه معرفي کړل




ایسر کمپنۍ خپل پنځه نوي لپټاپونه چې ټول يې د اينټل کمپنۍ تر ټولو وروستی يولسم جنرېشن پروسېسر لري، معرفي کړل. دغه لپټاپونه اسپاير۵، سويفټ۳ (دوه مختلفي بڼې لري)، سويفټ۳ ايکس او سويفټ۵ نومول شوي دي. د ايسر اسپاير۵ بيه له ۵۴۹۹۹، د ايسر سويفټ۳ بيه له ۶۷۹۹۹، د ايسر سويفټ۳ ايکس بيه له ۷۹۹۹۹ او د ايسر سويفټ۵ بيه بيا له ۷۹۹۹۹ هندي کلدارو څخه پيلېږي. د يادونې ده چې دغه بيې د هندوستان لپاره دي او کېدای شي نورو هېوادونو کې له دې سره توپير ولري. دغه لپټاپونه به د ايسر کمپنۍ ويب پاڼې او نورو پر ليکه پلورنځيو کې د نومبر په لومړۍ اونۍ خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ټول لپټاپونه د ځانګړنو، ډيزاين او ورتياوو له اړخه سره توپير لري، خو ټولو کې د اينټل کمپنۍ تر ټولو وروستی او پرمختللی پروسېسر کارول شوی دی.

## ايا له ځان سره خبرې د لېونتوب نښه ده؟



ډېر خلک په مختلفو عمرونو کې د مختلفو لاملونو له امله له ځان سره خبرې کوي، چې ځينې دغه کار په لوړ غږ کوي او ډېری وختونه نور خلک هم ورته متوجه کېږي. په دې اړه د ليکل شوي کتاب «The Art of Talking to Yourself» ليکواله، ويرونيکا ټوګاليوا وايي: «رښتيا خو دا دي چې موږ ټول له ځان سره خبرې کوو، کېدای شي د خلکو پر وړاندې له ځان سره په لوړ غږ خبرې کول عجيب وي، خو موږ ټول په خپلو ذهنونو کې د يوځه د وضاحت او اکثره د خپلو ورځنيو ستونزو او کارونو په اړه د لا ښه پوهاوي په پار دغه کار کوو.»

د کارپوهانو په وينا، له ځان سره خبرې کول صحي او ګټور عادت دی، په ځانګړې ډول له ځان سره مثبتې خبرې کول ستونزمنو حالاتو کې ډېر ګټور ثابتېږي. سختو حالاتو کې له ځان سره مثبتې خبرې کول د ارامتيا او د فشار يا اندېښنې پر ځای پر مثبتو څيزونو د تمرکز لامل ګرځي. خلک اکثره فکر کوي چې له ځان سره خبرې کول د رواني يا عصبي ناروغۍ نښه ده، خو ډېرو کمو حالاتو کې دا د عصبي ناروغيو نښه وي. د روغتيايي کارپوهانو په باور، کله چې يو څوک له ځان سره د خبرو کولو تر څنګ ځان ته زيان ورسوي يا د زيان رسولو په اړه خبرې وکړي، نو دا بيا يوه رواني ستونزه ده او بايد درملنه يې وشي.

عزيزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزيزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومتريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټيټمنټ ليدل، د صرافۍ خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې ويستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کريډيټ زياتول، د بل اداينه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له ايسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

